# دافغانستان آینده غورځنګ

# تګلار(اساسنامه)

## سريزه

دافغانستان آینده غورځنګ دافغانستان دخلکو ولسواک (دېموکراتیک) او پرمخ تللی (مترقی ) سازمان دی چې پکې دافغاني ټولنې پوهترين وګړي د دې لپاره راټول شوي چې دزيارکښ انسان د ګټو په دفاع کې دافغاني ټولنې بنسټيزو پوښتنو ته بنسټيز ځوابونه وړاندې کړي او دپېژند (معرفت)، ځواک اوشتمني دټوليزوني لار پسې واخلي. دوي دټولنې دلړکيو له خوا د ټولو اقتصادي، فرهنګي او علمي برياوو (لاسته راوړنو) راخپلونه (تصاحب) دمنلو وړ نه بولي د بې نياوه (نا عادلانه) او د وټيزې ( اقتصادی)، ټولنيزې، فرهنګي، توکميزې او نوږيزې (جنسي) نانډولتيا پر وړاندې په کلکه دربږي. دوی پر دې باور دي چې:

- ديوه ولسواک، خپلواک او دملي واکمن دولت جوړېدل چې دخلکو د ارادې ښکارندوی وي، هيواد له ټوليز کړکېچه راواېستای شي، تلپاتې سوله، امنيت، آزادي او سياسي رښتې سمبال کاندې، دهېواد ځمکنی بشپړتيا او سياسي يووالي دفاع او ساتنه وکړي او افغاني ټولنه د پرمختګ، ودې او د زيارکښانو دژوند دښهانې پرلور ورسيخ کاندې او په دې توګه دافغانستان دزيارکښو دتاريخي ارمانونو د پلي کېدو لاره پرانېستای شي؛
- دسياسي ــ ټولنيز کورني او بهرني اکر (وضعيت) په پام سره دربښتينې ولسواکۍ (دېموکراسی) پلي کېدنه يوه اوړده او کړکېچنه لاره ده، چې دپرله پسې دېموکراتيکو بدلونونوپه پايله کې دافغانستان په سياسي، ټولنيز اوفرهنګي ژوندکې دخلکو په کارنده او ځانخبري (آګاهانه) ګډون سره شونتيا لری؛
- ديوه ولسواک دولت رغاونه يوازې دافغانستان دزيارکښو پرګنو دغوښتنې او ارادې په مټ او ددېموکراتيکو وسيلو په کارونه شونې ده؛
- نړيواله پانګوالي دتاريخ پای نه دی او کېدای شي په هغه پسې دبشر لپاره بل نوی سترګ ارت (چشم انداز) وړاندې شي؛ داسې يوليدلوری چې دانسان بشپړه ازادي له ځان سره ولري.

دوی هوډ کړی چې دهر ډول زبېښاک، ظلم او له ځان پرديوالي (ازخود بيګانه ګی) دله مينځه وړلو لپاره به په پرله پيپلي ډول وجنګيږي .

دآينده غورځنګ بنسټيزه موخه دزيار ايستونکو په ګټه د ژور ټولنوټيز اجتماعي اقتصادي، سياسي او فرهنګي ادلون بدلون دربښتيا ينې لپاره، وګړنی پرګنې سازمانول او پوهول دي. هغه جنګيالي چې آينده غورځنګ رارغوي، په هغو بشر پالو اندونو سمبال دي چې له نړيوال پرمختللي اندتوګې او ليدلوري سره يې وده لوړتيا موندلې او له هغو نه دافغاني ټولنې دښه تراپيژندنې او دآينده غورځنګ کړنيزو موخو دپلي کولو لپاره ګټه

اخلي. دغه کار په هیڅ ډول د پراخو شننو، استدلالونو او ورمندونو (قضاوتونو) د نه منلو په مانا نه دی، ملګرتیایي ښکالوې (بحثونه) او له سیاسي ــ ټولنیزو پدېدو نه بېلابېلې انګېرنې، دغورځنګ داندیزې بډاینې ژمندویي (ضمانت) کوي. په ټولو برخو کې دغورځنګ دګردې کړنلارې اډانه دهمدغو پراخ اندوانګېرنواو دسازمان دننه ددېموکراسي اَرونو( اصولو) پر ستنو ولاړه ده.

د آزادۍ او برابرۍ (عدالت) پر بنسټونو باندې د ولاړې نړۍ د رغاونې په لارکې مبارزه، باید داسې اکر (وضع) مینځته رانه ولي چې دآزادۍ، دېموکراسۍ او د وګړو د آزاد پرمختګ کو ټونکی واوسي او په پایله کې د دغه نېک ستر ارمان پر ټنده باندې داغ شي چې پاکول یې، یو ځل بیا، څو پښته (نسله) ژوند ته اړتیا ولري!

دافغانستان آینده غورځنګ دکارګري خوځښت (جنبش) له تېرو ترخو ازمېښتونه په زده کړې سره، له بېروکراتیکو او زندۍکوونکو (اختناق) کړووړو او د دولتي سوسیالېزم په اردوکې دځواکمن دوګماتیک لیدلوریوباندې دنیوکو او دتل لپاره دګوند له پرګنو نه لوړ، د روحیې په ورکولوسره، دافغانستان دخلکو دربنتیني خدمتګار دېموکراتیک سازمان دجوړولو په لارکې مبارزه کوي.

دافغانستان دآینده غورځنګ غړي به چې هرچېرې اویا په هر یو ټولنیز دریځ (موقف) کې دي، دخلکودزیارکښو او روښاندو پوړونو دحق غوښتنې په دېمو کراتیکو او سوله ییزو خوځښتونو (حرکتونو) کې کارنده ونډه اخلي او د یوه بنسټیز ادلون بدلون پر لوري به ددغه خوځښتونو دسمون هلې ځلې کوي. دوی دا خپله دنده بولي چې ټولنیز اوفرهنګي جوړښتونه دیوه بنسټیز ادلون بدلون پر لوري وخوځوي، او په سیاسي تګلوري کې دپوهو وګړنیو پرګنو دګډون لپاره هواره کاندې .

## دافغانستان دآینده غورځنګ اندیزې سرچینې رنګارنګ دي:

دجګړې او اور بلونې پر وړاندې دربدل، په هېواد کې دسولې او امنیت دفاع، دافغانستان دتوکمیزو دیووالي او دوستۍ په پار هلې ځلې، دعلمي نړ یلید له اَرونو سره همغږي، هومانیزم (بشردوستۍ) ته لېوالتیا، دښځو له ربنتیالو (حق خواهانه) خوځښتونو سره هملوري (همسویي) او له هر راز ټولنیز توپیر سره مقابله، جهادي ــ طالبي ځواک ته پای ورکول، چاپېریال ساتنه او د ښکېلاک او پانګواکۍ (امپریالېزم) پر وړاندې مبارزه .

دافغانستان روښاندي او زیارکښ پوړونه دافغانستان دآینده غورځنګ ټولنیزې سرچینې جوړوي .

دافغانستان آینده غورځنګ دافغانستان دخلکو ارمانونو ته درسېدو لپاره دافغاني ټولنې دکینو او دېموکراتیکو ځواکونو یووالی، یوه غوره او ارزښتناکه وسیله ګڼي او د هغې د ربنتیاینې په پار هاندوهڅه کوي.

# لومړی څپرکی

**غړیتوب ، او دغړو ربنـــــــــــتې او دندې**

## دغړیتوب اړونه (شرایط):

<u>لومړی توک</u> : هر افغان (۱) چې ۱۸ کلنی ته رسېدلی وي، دافغانستان دآینده غورځنګ کړنلار او تګلار ومني، غړیتوب ګډونبیه او دغړیتوب ونډه په پرله پېیلې توګه ورکړي او هممهال دنورو سیاسي سازمانونو غړیتوب ونه لری، د افغانستان آینده غورځنګ غړی کېدای شي.

**منښت (پذیرش)**

<u>دویم توک</u> : په ځانګړې (انفرادی) توګه د افغانستان دآینده غورځنګ دلومړنیو جوړښتونو له خوا (دکار یا هستوګنې دسیمې) دغړو منښت تر سره کېږي .

دغورځنګ د سیمه ییزې کړی (حوزې) لویې غونډې کولای شي چې دلومړي توک د منځپانګې په پام سره په ډېریو رایو (اکثریت آراء) غورځنګ ته د غوښتونکو غړیتوب ومني.

ډلیز منښت د افغانستان دآینده غورځنګ دمرکزي شورا له خوا ترسره کېږي .

## دغړو دندې

<u>دریم توک</u> : دغورځنګ غړي دنده لري چې دافغانستان دآینده غورځنګ کړنلار ې او تګلارې دپلي کېدو په لاره کې پر له پسې هڅې وکړي، دغورځنګ په کارندوییو (فعالیتونو) کې هر اړ خیزه برخه واخلي، دغورځنګ اندیز او پر مختللي (مترقی) فرهنګ دودکړي، دغورځنګ روان سیاست او شعارونه دخلکو په منځ کې انګروزه (تبلیغ) کاندي، خپله سیاسي او ځانګیزه (مسلکي) پوهه په پر له پسې ډول وروزي او وده ورکړي، دغورځنګ دمالی بنسټ په بډاینه کې ونډه واخلي، د غورځنګ دننه د ډلیز کار لوښې (روحیې) ته متره ورکړي، سازماني پربکړ ې خوندي وساتي، دکړنلارې او تګلارې پر وړاندې له پیدا کېدونکو، تېرو فرکسیو نې ډلو ټپلو، شخصیت کېش رغاونې او نور وروسته پاتې ټبرنیو دودونو دستور ونو سره مبارزه وکړي، دزیار ایستونکو د غوښتنو په ټولنو کې کارنده برخه واخلي، او دغورځنګ د پیاوړتیا او څومره ییزې څرنګیزې (کمي کیفي) ودې لپاره هلې ځلې وکړي.

**دغړو ربښتې (حقوق ) ،**

<u>څلورم توک</u> : دغورځنګ غړی دا ربښته لري چې ځان دغورځنګ ټولو پوړیو (مقامونو) او اورګا نونو ته ونومويِ، په آزاده توګه دسازمان په کورنیو ټولټاکنو (انتخاباتو) کې ونډه واخلي چاروکي او اورګانونه تر اصولي نیوکو لاندې راولي، دتګلارې او کړنلارې په لیکلو کې، دغورځنګ د روان سیاست په ګوتڅنډنه کې کارنده برخه واخلي، په هغو غونډو کې چې دده / ددې / کړه وړه تر پوښتنو دروېړنو لاندې راځي، برخه واخلي، او د

دغو غونډو دپريکړو دنه منلو په ترڅ کې تر پورتنيو اورګانونو ان تر لويې غونډې (کنفرانس ) پورې ورشي.

دغورځنګ اورګانونه دنده لري چې دغړو دربشتو د عملی کېدو اَړونه ( شرايط ) برابر کاندې .

پينځم توک : دغورځنګ په ټولو برخو کې ټاکنې ازادې، سيده او پټې ترسره کيږي .

دغورځنګ پرېکړې په ټولو برخو کې (پرته له هغې برخې چې په دې لاسوند کې کښل شوې وي ) د رايو په ډېر ښت تر سره کيږي .

# دويم څپرکی

## اډاني (تشکيــلات)

### اډانيز اَرونه (تشکيلاتي اصول)

شپږم توک: دافغانستان دآينده غورځنګ بنسټيزې کړنې دسازمان دننه دربشتينې دېموکراسۍ، د ګردو اورګانونو او چلوونکو ټاکنيز غوراوې، ګډو پرېکړو، د غوره شويو اورګانونو دپرېکړو نوښتګرانه رښتيايني، دغورځنګ په ټولو پوړيو کې د کړو وړو ګوزارش وړاندېيني، ځانخبري (آګاهانه) انضباط، جوتتيا او په ډاګه وينه، دګډې ملتيا او يووالي لوښې (روحيې)، ځانتپرېدنې او سازماني ګټو ته په لومړيتوب ورکونه جوړيږي.

### اډانيز څرنګوالی

اووم توک: دافغانستان آينده غورځنګ ، دهېواد دننه او بهر د رغول شويو ساز مانونو او فدراسيونونو يوه ګډه اډانه دغورځنګ څرنګيز ه اډانه په لاندې ډول ده :

- دکار يا دهستوګنې په سيمه کې دغورځنګ کړی(حوزه) ،
- دهېواد په ولايتو کې ولايتي سازمانونه او ترهېواد بهر فدراسيونونه ( ۲)،
- مرکزي شورا ،
- سراسري کنفرانس.

اتم توک: دغورځنګ ترټولو لومړنی بنسټيزه اډانه دغورځنګ حوزه ده، دهستوګن او يا دکار په سيمه کې دغورځنګ حوزې لږ تر لږه له درو تنو څخه جوړيږي، د هېواد بهر فدراسيونونو دهستوګنو سيمو دجغرافيايي نژدېوالي پر بنسټ جوړيږي .

دغورځنګ کړی (حوزه) له پرګنو سره د اړيکو وسيله ده، دکار دسيمو حوزې دزيارکښانو ديو موټې کولو او دهغوي ټولګيزو (صنفي)، ټولنيزو او سياسي غوښتنو ته په لوري ورکولو کې بنسټيز نقش لوبوي او دغورځنګ د ژورې ټو لنيزې تکيه ګاه اوپراختيا ببخنې وسيلې دي.

نهم توک: دولایتی سازمانو او تر هېواد بهر فدراسیونونو کړه وړه د خپلو یوونونو (واحدونو) د لویو غونډو له خوا د ټاکل شویو اجرایي کومېټو له خوا ترسره کېږي.

لسم توک: ولایتي سازمانونه او هېوادبهر فدراسیونونه دغورځنګ له کړنلارې اوتګلارې سره سم چار پرځای کوي، هر هېواد بهر فدراسیون، هر ولایتي سازمان او دغورځنګ هره کړۍ (حوزه) دخپلو غونډو د کارلارې (اجېنډا) په ټاکلوکې پوره واکمن دي. فدراسیونونه او ولایتي سازمانونه له خپلو ځانګړو اړونو (شرایط) سره سم د سراسري غونډې (کنفرانس) اود مرکزي شورادپرېکړو دپلي کېدو لپاره پروګرامونه جوړوي او عملي کوي.

## دآینده غورځنګ لار ښود اورګانونه

### الف ـــ سراسري غونډه یا کنفرانس

یوولسم توک: دغورځنګ سراسري کنفرانس له ولایتي سازمانونو او په بهر کې دغورځنګ له فدراسیونونو څخه د ټاکل شوواستازوعمومي غونډه او دغورځنګ لوړترین لارښود اورګان دي چې هر دوه کاله یو ځل جوړېږي. سراسري کنفرانس ته استازي دهیواد دننه دولایتي سازمانونو او د هېواد بهرو فدراسیونو دکنفرانسونو له خوا چې دسراسري کنفرانس دجوړېدو لپاره رابلل کېږي، ټاکل کېږي. د ولایتي سازمانونو او هېوادبهرو فدراسیونو دکنفرانسونو دجوړولو او په ترڅ کې یې داستازیتوب آرونه (نورمونه) دیوې جلامقررې په ترڅ کې دغورځنګ دمرکزي شورا له خوا په ګوته کېږي. سراسري کنفرانس ددې لاندېنیو دندو او واکونو لرونکی دی :

- دغورځنګ دمرکزي شورا د ګوزارش څېړنه ،
- دکړنلارې اوتګلارې هوکړه (تصویب) او بیاسمون ( تعدیل) ،
- غورځنګ ته نوم او نښان غوره کول ،
- د سراسري کنفرانس دپوهترینو، کارندو او وتلواستازو له منځه دغورځنګ دسروال (رئیس)، دمرکزي شورا دغړو او دغوښتنلیکونو او پلپوټونو (عرېضو او شکایتونو) دکمسیون دغړو ټاکنه،
- د غړو درارسېدلو پلپوټونو او غوښتنلیکونو څېړنه او دهغو په باب پرېکړې ،

د سراسري کنفرانس نا واریزه (غیرنوبتي) غونډه کېدا ی شي چې د دېریو غړو په سیده غوښتنه او یا دمرکزي شورا دغړو د دوه درېیمو ِ په غوښتنه جوړه شي .

### ب ـــ مرکزي شورا

دولسم توک: مرکزي شورا دغورځنګ ددوو سراسري کنفرانسونو ترمنځ د غورځنګ لار ښود او سموال اورګان دی چې دا لاندې دندې پر غاړه لري :

- له نومړلو سیاسي اکرو (مشخصواوضاعو) سره دغورځنګ د کړنیزسیاست د لوریو سمونه او ښوونه،
- دمرکزي شورا له غړیو څخه داجرائیه پلاوي دغړیو ټاکنه ،
- دمرکزي شورا ترڅنګ، دمرکزي شورا له غړیو او تکړه کارپوهانو څخه چې د غورځنګ غړیتوب لري، دکار دکمسیونو نو جوړونه ،
- لویې جرګې او پارلمان ته دغورځنګ دنوماندو (کاندیدانو) او دغورځنګ د ټاکنیزو (انتخاباتي) وستلونو (پلاتفورمونو) لارښوونه،
- دغورځنګ سراسري کنفرانس ته داستازیتوب د آرونو (نورمونو) ټاکنه،
- د سراسري کنفرانس دپرېکړو د پلي کو لو څارنه،
- دغورځنګ دشتمني او مالي چارو څېړنې،
- په هېواد کې دپرمختللو او دېموکراتیکو ځواکونو ترمنځ د همغږۍ او یووالي درامنځته کولو لپاره له کورنیو (داخلی) سازمانونو سره دسیاسي تړونونو رامنځته کول،
- په نړېوالو غونډو کې دګډون او په سیمه ییزو او نړیوالو سیاسي ټولنو کې دغورځنګ دغړیتوب په اړه پرېکړې،
- دولایتي او هېواد بهر و فدراسیونونو دجوړولو پرېکړې،
- دمرکزي شورا پلینومونه په کال کې دوه ځله رابلل کېږي .

## ج ــ دمرکزی شورا اجرائیه پلاوی

دیارلسم توک: دمرکزي شورا اجرائیه پلاوی دالاندې دندې لري :

- دمرکزي شورا ددوو غونډو (پلینومونو) په منځ کې دغورځنګ دروانو چارو پر مخوړل،
- دهېواد دننه دولایتي سازمانونو او هېواد بهرو فدراسیونونو د کړو وړ و همغږي کول،
- دغورځنګ دکنفرانس او دمرکزي شورا دپرېکړو ترسره کول او لوری ورکول،
- مرکزي شورا ته دغورځنګ دسازمانونو او فدراسیونونو دکار ګوزارش وړاندې کول،
- دغورځنګ دخېړنیزو اورګانونو د چلوونکو ټاکنه، ددغو اورګانونو کارندویۍ (فعالیت) ته لوری ورکول او خېړنیزه پالیسي ور ټاکل،

- دمالي ګوزارش برابرونه او دغورځنګ دبوديجې وړانديز،
- له نورو پرمختللو سياسي ټولنيزو سازمانونو سره دغورځنګ داړيکو ټينګول (تأمينول).

## د ـ دغورځنګ سروال (رئيس)

<u>څوارلسم توک</u>: دغورځنګ سروال د دې لاندې دندو او واکونو څښتن دى:

- دمرکزي شورا د اجرائيه پلاوي د غونډو سمبالښت، او ورته دغورځنګ دلوړو اورګانونو دپريکړو پر بنسټ دکارلوريو په ټاکلو کې لارښوونه کوي ،
- داجرائيه پلاوي د غونډو په منځمهاليپرکې دغورځنګ ټولې چارې پرغاړه اخېستل او دغورځنګ دټاکل شويو اورګانونو دپرېکړو د پلي کېدنې څارنه ترسره کوي،
- دنورو سازمانونو او سياسي جوړښتونو په نړيوالو او ملي غونډو او خبرو کې، دغورځنګ استازيتوب کوي. سراسري غونډې ته دمرکزي شورا دکړووړو او دمرکزي شورا پلينوم ته داجرائيه پلاوي ګوزارش وړاندې کوي.

د سروال داوږد مهالي ناسوبتيا او يا استعفأ په ترڅ کې ، داجرائيه پلاوي له خوا دمرکزي شورا پلينوم رابلل کېږي او دمرکزي شورا له غړو نه يوتن د سراسري کنفرانس تر جوړېدو پورې، دافغانستان دآينده غورځنګ د سروالۍ (رياست) د کالخواى (سرپرست) په توګه ټاکي .

## ه ـــ د پلپوټونو او غوټنليکونو( شکايتونو او عرېضو) ته د غورمرکزي کمېسيون.

<u>پينځلسم توک</u>: دا کمېسيون به دغورځنګ د سازمانونو او غړو پر غوښتنليکونو او پلپوټونو غورکوي، د نورو پرېکړو لپاره به سکالو (موضوع) اجرائيه پلاوي او يا د اړتيا له مخې مرکزي شورا او سراسري کنفرانس ته لېږي.

# درېيـــم څپرکى

## د غورځنګ مالـــي چارې

<u>شپاړسم توک</u> : دغورځنګ مالي پانګه دغړيتوب ونډو، مرستو، او د غورځنګ دخپرونو دخرڅلاو له لارې لاسته راځي،

دغورځنګ مالي څرنګوالى په هرو شپږو مياشتو کې د مرکزي شورا داجرائيه پلاوي له خو ا څارل کېږي .

# څلورم څپرکی

## سازماني آرونو (اصولو ) له نه پاملرنې سره دچال چلند څرنګوالی

اوو لسم توک: هغه غړی چې د غورځنګ دتګلارې له آرونو تېری کوي، داړوندو واکمنو اورګانونو تر نیوکې لاندې راځي، دغه نیوکې په یادونه (توصیه )، په (لیکنی او ګړنیګواښنه (اخطار) او په پایله کې له غورځنګه په ایستنه تر سره کېږي. په غورځنګ کې له غړیتوبه دشړنې وړاندیز، د اړوندې کړی (حوزې) له خوا کېږي، او دمرکزي شورا د پلپوټونو او غوښتنلیکونو (شکایتونو او عریضو) دکمیسیون تر څارنې وروسته د مرکزي شورا د مشرتابه پلاوي په پریکړه تر سره کېږي، له غورځنګه شړل شوی غړی /غړې / دا رښته لري چې دخپل شړون دپرېکړې پر وړاندې د غورځنګ سراسري کنفرانس ته خبره ورسوي.

# پېنځــم څپرکی

## دغورځنګ خــپرونې

اته لسم توک : دغورځنګ خپرونې دغورځنګ دلیدلوریو، دخلکو دژوندانه داکر اود زیار کښانو دغوښتنو ځلندویه (منعکسوونکي) دي، دغورځنګ دروانو سیاستونو دتبلیغ او دکړنلارې اوتګلارې په پلي کولو کې ستر رول لوبوي. د کتنپلاوي (هیئت تحریر) غړي او دخپرونو چلوونکي دمرکزي شورا داجرائیه پلاوي له خوا ټاکل کېږي.

# شپږم څپرکی

نورې چارې

نولسم توک: دغورځنګ مېشتځای (مقر) داجرائیه پلاوي له خوا ټاکل کېږي .

---

(۱) په دې ماده کې د«افغان» ویی (مفهوم ) تر«افغاني هېوادوال » یا (افغانی تبعه) څخه په پراخه مانا کارول شوی او ټول هغه خلک چې له افغاني ټبرونو اوکورنیو سره اړیکې لري، که په هېواد کې دي او یا جلاوطنی ته اړوتلي او ان د اړوندکوربه هېواد تابعیت هم و لري، په دې جاج( مفهوم) کې راځي .

(۲) دفدراسیو ن ویی (واژه ) د دغورځنګ د بهر مېشتو سازمانونو لپاره کارول کېږي.